د افغانستان د حقوق پوهانو سراسری تولنه

انجمن سراسری حقوق دانان افغانستان

Global Jurist Association of Afghanistan

# د افغانستان د خلاصون په خاطر تولبلنه

### د حق او عدالت د خدای ج په نامه

په نظر کې ده چې دملګرو ملتونو سازمان د فبرورۍ د میاشتې په دویمه نیمايي کې د قطر په پلازمېنه د دوحې په ښار کې د افغانستان په تړاو غونډه دایر کړي او څنګه چې اعلام شوېده په دې هکله به خپل تصامیم و نیسي
»د افغانستان د حقوق پوهانو سراسري انجمن«
د مسوولیت د احساس پر بنیاد چې د افغانستان او د هغه د مظلومو خلکو په وړاندې یې لري او همدا راز هغه موارد چې د هیواد په شتون او هستۍ پورې پیوند لري د مدعي العموم په توګه د اروپا د عاج برج له نسخې پرته ( زموږ رنځور او مصیبت ځپلی وطن د نسخه پردازۍ تحمل نه لري)
زموږ د ټولنې په وینو لړلي کتاب پر اساس د خپلو ملي ګټو پر بنیاد د افغانستان د هستۍ او شتون په هکله څرګند او ښکاره سوالونه د ګرانو هیوادوالو سره مطرح کوي
بدون له شکه چې افغانستان او په ځانګړي ډول په وروستیو دوه نیمو کالو کې له ډېرو مصایبو او بحرانونو سره مخامخ و او موږ باید په مسلکي او زیان پېژندونکي لید لوري سره خپل هیواد له دې کړکېچن بحران څخه و باسو نو ځکه د لاندې پوښتنو په مطرح کولو د خلاصون د واقعي او عملي لیارې وړاندیز کوو:
_ایا په افغانستان کې دولت وجود لري ؟
_ولې افغانستان د دوه نیمو کالو په اوږده موده کې د دولت د سیاسي او تاریخي هویت له نه شتون سره مخامخ دی ؟
_ولې سرپرسته اداري ( د طالبانو دیفکتو حکومت) په دوه نیمو کالو کې و نه کړای شول چې « حقوقي بحران » مهار او د مشروعیت لپاره لیاره جوړه کړي ؟
_ولې افغانستان کم ترکمه لا تېنګې سولې ته چې د خلکو غوښتنه او دټولنې د بقا نیاز او شرطونه دي او د ازادی ،مصوونیت او عدالت پر مفاهیمو تعریف کېږي په کروهونو فاصله لري ؟
_ولې افغانستان په نړیواله انزوا کې قرار لري په داسې حال کې چې د تکفیري ذهنیت آماج دی بیا هم د بین المللي تروریستانو لپاره امن ځای ګڼل کېږي ( د ملګرو ملتونو د امینت شورا د وروستي ګزارش په

اساس نړۍ وال تروریستي ګروپونه په افغانستان کې فعال دي) او په همدې دلیل دا هیواد د ګاونډیو او نړۍ لپاره د خطر منبع ګڼل کېږي
په داسې حال کې چې میلوني فقر د« کفر دروازه » ښداد کوي او د یوې بشري غمیزې خطر او ور سره اقتصادي سقوط ،کتلوی مهاجرت او بیکاري زموږ میلیونه وطنوال تهدیدوي ،دطالبانو زعامت پخپل متحجرانه او تنګ نظرانه برخورد زموږ د خلکو دین او آئین په برمته نیولی دی او په ریړې او حجاب نښتي دي او د ټولنې د نیمایي نه ډېر نفوس يې په جنسيتي تبعیض له خپلو اساسي حقوقو محروم کړي دي او له نجونو څخه یې د تحصیل حق اخیستی دی.
د طالبانو د دیفکتو حکومت مسوولان په یو ګروهي یو صنفي یو جنسيتي ترکیب په تبعیضي او ناقض ډول شهروندي حقوق او ټول امور په عام ډول اسلامي شریعت محول کړي او د خلکو ازادي او حقوق يې «اسلامي او ملي ارزښتونو» ته سپارلي دي.
روښانه ده چې د دې ټولو ځورونکو مصیبتونو مقابله یوازې یو ملي مقتدر قانون محور او عدالت خپرونکې دولت کولای شي او داسې دولت یوازې د اساسي قانون ، عدالت او دقانون د حاکمیت په وجود کې منځ ته راځي
او دا د قانون حاکمیت دی چې د مشروعیت او د ملي حاکمیت د حق د اعمال لپاره لاره جوړوي چې په ملي او دیني ارزښتونو او نړیوالو نورمونو ولاړ وي او دا یوازې د خلکو انحصاري صلاحیت دی
د دې ستر ملي مامول لاس ته راوړنه او د لوی حقوقي بحران مهار او ورسره« نور بحرانونه» د اساسي قانون په انفاذ چې زموږ له دین او آئین سره مطابقت لري نغښتي دي چې د ټولو مسایلو او مصایبو د حل شاه کلید ګڼل کېږي
په یوویشتمه پیړۍ کې اساسي قانون د افغانستان او نړیوالې ټولنې ترمنځ د وصل پول دی په دې ملي وثیقه کې د افغانستان د دولت تعهد او الزام د ملګرو ملتونو د سازمان د منشور او نورو نړېوالو میثاقونو او لویو اقتصادي او فرهنګي نړیوالو سازمانونو سره د اطمینان منبع ګرځي
د اساسي قانون انفاذ د خپلسرۍ او د قدرت او استبداد د تحدید یوازېنۍ لاره ده چې د قدرت واقعي تقسیم په (افقي او عمودي ډول) او دثلاثه دولتي قوې تفکیک او تنظیم په دقیق او دموکراتیک ډول په مرکز او محلاتو کې منځته راولي او د خلکو ګډون ته په قدرت او دولتي اداره کې زمینه برابروي.
د قانون حاکمیت هغه لوی چتر دی چې د ملت ټول احاد حکومت کوونکي او خلک په بر کې نیسي او د ټولنې ګذار د ثبات پر لور جوړوي قانون د دولت او خلکو مکلفیتونه مشخص کوي او دخلکو حقوق او آزادي تعریفوي
تر څو د قانون په رڼا کې منتقدان او د نظام سیاسي مخالفان په مدني ډول خپلې نیوکې ابراز او له خپلو مشروع حقونو څخه دفاع وکړي
افغانستان له مختلفو اقوامو او مذاهبو څخه تشکیل شوی دی او یو ستر ملي چتر ته ضرورت لري چې د ټولنیز ادغام (انتیګرېشن) زمینه برابره کړي او په ټولنه کې ټول ملتهب انقطابونه له منځه یوسي او د ټولو پخوانیوو رژیمونو منسوبین په بر کې و نیسي او دا چتر هماغه اساسي قانون دی چې د ټولو نظامونو پلویانو ته موقع برابروي چې په سترو ملي مسایلو کې په مشوره د خپلې خوښې رژیم سره موافقه و کړي
د اساسي قانون د انفاذ او د قانون د حاکمیت استقرار د خلکو او سترو مشروطه غوښتونکو ملي او تاریخي میراث دی چې په تېرو سلو کالونو کې یې ورته مبارزه کړې ده.
د طالبانو زعامت باید دې پوښتنې ته توجه وکړي چې :
د نړۍ په ټولو هېوادونو کې ولې اسرائیل او افغانستان اساسي قانون نه لري ؟
د افغانستان غمیزه د بهرنیو نړیوالو رقابتونو او د امنیت شورا د دایمي غړو د مداخلې او تجاوز معلول او محصول دی چې د دوئ د ماتې حقوقي او اخلاقي مسوولیت د افغانستان په هکله لکه لمر روښان دی.

مگر له بده مرغه په دې موده کې نړيوالې ټولنې په ټول اخلاقي مکلفيت (Moral Obligation) د افغانستان او زموږ د خلکو په حق کې هيڅکله هم د اساسي قانون په انفاذ او د طالبانو د ديفکتو حکومت د تعهد په باب ملگرو ملتونو جدي تاکيد نه دی کړی او په کج دار او مريز ډول « د حکومت همه شمول » صحبت کوي چې زموږ د خلکو په ذهنونو کې هماغه د وروستۍ لسيزې سهامي او کليپتوکراسي را تداعي کوي

د دې وخت راغلی چې نړيواله ټولنه او په ځانگړي ډول د ملگرو ملتونو سازمان د افغانستان د خلکو د اکثريت خاموش برحقې ندا ته غوږ شي او د افغانستان د خلکو د انساني غوښتنو د تحقق لپاره خپل جميله مساعي و نه سپموي.

»د طالبانو اسلامي تحريک » او د هغوئ د ديفکتو حکومت عدم تمکين د خلکو او ملي ارادې په مقابل کې هيواد د هولناکې نابودۍ خوا ته بيايي.

له دې کبله:

»دافغانستان د حقوق دانانو سراسري انجمن » د خپلو پخوانيو ټولبلنو په دوام له ټولو وطنپالو او د افغانستان د ساتنې او سلامتيا له ساتونکو د خلکو د حقوقو او ازاديو ،دښځو د برحقې داعيې د مدافعينو ،د ملي مقتدر قانون محور او عدالت تامينونکی دولت له پلويانو ،مدني او سياسي نهادونو د قانون د حاکميت د پاسدارانو ،عدالت غوښتونکو ،منورينو ،روڼ آندو د معارف او اکاډميکو ټولنو علمي فرهنگې شخصيتونو د موسيقۍ د اهل او مينه والو او د جنگ او تبعيض مخالفانو ته بلنه ورکوي چې د افغانستان د عليا مصالحو او زموږ د مظلومو خلکو د گټو په پار :

په يو تاريخي حی علی الفلاح کې په حبل المتين ( د خلاصون پړی) منگولې و لگوئ او د اساسي قانون د انفاذ او د قانون د حاکميت د استقرار او دملي حاکميت چې د ټولو مشترکه ملي غوښتنه ده نو بايد چې دې ملي او نړيوالې داعيې ته د خپلو کارونو په سرليک کې ځای ورکړو

بايد په ياد و لرو چې حق نه ورکول کيږي دې ستر ملي او تاريخي ارمان ته د رسېدو په پار بايد په يو عظيم تاريخي بدلون کې د سراسري مدني نهضت د پرمختگ لپاره له هر راز حب ،بغض ،قومي،ژبني،سمتي او ايډيالوژيکي څخه پرته په هيواد دننه او بهر کې د خلکو دا برحقه داعيه په يو غږ نړۍ والې ټولنې او د ملگرو ملتونو سازمان ته و رسوو

افغانستان د ټولو وطن او د ټولو خلکو مشترک زړه او د ټولو برابرو ورونو قومونو د حماسو او غميزو گډه ټاټوبی دی

د شاه آمان الله په قول د مشترک هيواد موجوديت په ملي وحدت کې نغښتی دی.

ټول په يوه منورانه او د ملي وفاق په پراخه دايره کې د «انقلاب اميد » په ساتنه ،د علم او جهل په تاريخي مبارزه د ژوند د حق ،انساني کرامت ،ازادي،عدالت ،ترقي،مساوات او د خپل مور وطن ( گران افغانستان) په ساتنه او تداوم کې بايد خپله د ستاينې وړ ونډه تر سره کړو.

په درنښت

دانجمن اجرائيه هيئت

د انجمن ريس مير عبدالواحد سادات

د فبرورۍ اتمه ۲۰۲۴ م کال

د دلوې ۱۹ مه۱۴۰۲ هـ ش کال